## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت


## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

۲۶سنبله _سال ۱۴۰۱




اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

| عنوان | صفحه |
|---|---|
| وزیر امور مهاجرین با سفیر ایران ملاقات کرد | ۱ |
| د مهاجرینو چارو وزیر د نجیب الله له کورنۍ سره خپله خواخوږي څرګنده کړه | ۲ |
| جلسه کمیته تفاهمنامه های وزارت دایر شد | ۳ |
| بیش از هزار مهاجرافغان به وطن برگشت نمود | ٤ |
| برای 207خانواده در لغمان مساعدت شد | ٤ |
| مساعدت نقدی برای ۲۰۷ خانواده در ارزگان توزیع شد | ٤ |
| له ډوبې شوې کښتۍ ۳۸ کډوال ژغورل شوي، تر ۶۰۰ نور برېتانیا ته اوښتي دي | ٥ |
| سازمان ملل: بیشتر کودکان پناهنده از حق دسترسی به آموزش محروم اند | ۸ |
| ۱۴۲ مهاجر از جمله پاکستانی‌ها در مقدونیه شمالی دستگیر شدند | ۹ |
| کشتی «سی آی ۴» اجازه یافت نجات یافتگان را در ایتالیا پیاده کند | ۱۲ |
| | ۱۲ |
| په جعلي دیپلومات پاسپورټونو او شخصي الوتکو کې قاچاق کوونکي ونیول سول | ۱٤ |
| پاکستان: پولیسو ۲۶ سند نه لرونکي افغانان نیولي، سلګونه نور بندیان دي | ۱٥ |
| مدیترانه کې د کډوالو ۲۵۰ کسیزه ډله ژغورل شوې | ۱۷ |

# متن کامل اخبار

## وزیر امور مهاجرین با سفیر ایران ملاقات کرد

ویب سایت وزارت



**الحاج خلیل‌الرحمن حقانی، وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان روز پنجشنبه ۲۴ سنبله در ملاقاتش با آقای بهادر امینیان، سفیر جمهوری اسلامی ایران در کابل میزبانی چهل ساله آن کشور از مهاجران افغان را قابل قدر دانسته و خواهان تداوم این همکاری شد.**

**ایشان از تلاش جدی ا. ا. ا. برای فراهم سازی زمینه برگشت مهاجران به کشور، ادغام و فراهم سازی زمینه کار به منظور جلوگیری از مهاجرت ها یادآوری نموده خواهان همکاری بیشتر دولت ایران، در زمینه ارایه خدمات به مهاجران و فراهم سازی زمینه کار برای شهروندان کشور در داخل افغانستان شد.**

**در همین حال سفیر ایران معلومات داد که روزانه حدود سه هزار نفر به صورت قاچاقی و همین تعداد با ویزا وارد ایران می شوند که شمار مهاجران مقیم ایران را می افزاید. وی از فعالیت مافیای قاچاق انسان و قاچاق مواد مخدر در مرز های دو کشور ابراز نگرانی کرده افزود: کسانی که به صورت غیرقانونی وارد ایران می شوند با مشکلات قاچاق انسان و عدم خدمت رسانی روبرو می گردد.**

آقای امینیان راه حل کاهش مهاجرت افغان ها را فراهم سازی زمینه کار در داخل افغانستان عنوان کرده اعلام کرد که دولت ایران آماده است در زمینه تولید کار در داخل افغانستان با ا. ا. ا. همکاری کند.

وزیر امور مهاجرین اطمینان داد که ا. ا. ا کشت و قاچاق مواد مخدر را به صورت جدی منع کرده، این موضوع در جلسه کابینه نیز فیصله شده و تلاش صورت می گیرد تا این پدیده به صفر برسد.

به گفته ایشان برای جلوگیری از قاچاق مواد مخدر به تجهیزات قوی و توظیف نیروی نظامی ویژه در سرحدات مشترک ایران و افغانستان نیاز است که با همکاری مشترک دو کشور امکان پذیر می باشد.

## د مهاجرینو چارو وزیر د نجیب الله له کورنۍ سره خپله خواخوږي څرګنده کړه

د وزارت ویب سایټ



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د دغه وزارت د مالي او اداري ریاست کارکوونکي شهید نجیب الله له کورنۍ سره خپله خواخوږي څرګنده کړه.

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزیر په داسي حال کي چي د یاد وزارت یو شمیر چارواکي هم ورسره وو، د وږي په (۲٤) مه د مرحوم نجیب الله ستانکزي کور ته لاړ او د مرحوم له کورنۍ او خپلوانو سره یې د خواخوږۍ او ډاډګیرنې مراتب څرګند کړل.

ښاغلي حقاني شهید نجیب الله یو خدمتګار، د دندې پابند او د لوړ شخصیت خاوند وباله او د نوموړي شهادت یې د هغه د کورنۍ او د مهاجرینو چارو وزارت لپاره یوه ستره ضایعه وبلله او د خدای تعالی له دربار څخه یې ورته د فردوس جنت او کورنۍ او خپلوانو ته یې د صبر جمیل غوښتنه وکړه.

**نجیب الله ستانکزی څو ورځې وړاندې د سالنګونو پر لاره په یوه ترافیکي پېښه کې ټپي شوی و او د وړې په (۲٤)مه یې د کندوز ولایت په سیمه ییز روغتون کې د اجل داعي ته لبیک ووایه.**

## جلسه کمیته تفاهمنامه های وزارت دایر شد

ویب سایت وزارت



**در این نشست که چهارشنبه ۲۳ سنبله تحت ریاست مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین دایر شد در رابطه به تفاهمنامه های روی دست وزارت با موسسات و چگونگی فعالیت ها و خدمت رسانی آن ادارات بحث و تبادل نظر شد.**

**معین مسلکی وزارت در این نشست بیان کرد که مصارف اداری موسسات و ادارات تطبیق کننده باید نظر به پروژه های کاری آن به دقت بررسی و به صورت عموم کاهش داده شود تا قسمت اعظم کمک ها به مستحقین برسد.**

**وی همچنان به برگشت بیجاشده ها به مناطق اصلی شان تاکید کرده افزود که به منظور تشویق خانواده ها باید کمک ها برای برگشت شان توزیع شود. تجمع بیجاشده ها در یک شهر سبب تضعیف خدمت رسانی می شود.**

**در همین حال مولوی سردار شیرزاد رئیس رسیدگی به بیجاشده های داخلی معلومات داد که وزارت در نظر دارد بیجاشده های کمپ های کابل را به ولایات اصلی شان برگرداند. این موضوع جز اساسی برنامه های امارت اسلامی است.**

## بیش از هزار مهاجرافغان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**به اساس گزارش آمریت امورمهاجرین نیمروز یک هزارو ۲۲۱ تن مهاجر، به تاریخ ۲۳ سنبله طور اجباری وداوطلبانه از ایران به وطن برگشت نموده اند.**

**به گفته منبع ازآن میان افراد مذکور، ۵۳۵ نفر طور داوطلبانه ومتباقی عودت اجباری نموده اند و ۷۹ مرد و ۷۱ زن وهمچنان ۲۲ تن مجرد آنها غرض دریافت کمک، به دفترIOM معرفی شده اند.**

## برای 207خانواده در لغمان مساعدت شد

ویب سایت وزارت




**برای ۲۰۷ خانواده بیجاشده در ولایت لغمان به تاریخ ۲۳ سنبله، مساعدت موسسه DACAR، درهماهنگی اداره امور مهاجرین آنولایت توزیع شد.**

**کمک مذکور برای هر خانواده یک بسته صحی بود که از جانب موسسه یاد شده تهیه شده بود.**

## مساعدت نقدی برای ۲۰۷ خانواده در ارزگان توزیع شد

ویب سایت وزارت



برای ۲۰۷ خانواده متضرر ناشی ازجنگ در ارزگان به تاریخ ۲۲ سنبله مساعدت نقدی درهماهنگی اداره امور مهاجرین آنولایت توزیع شد.

کمک یاد شده برای هر خانواده سروی شده مستحق، مبلغ ۲۱ هزارو ۷۶۰ افغانی بود که ازطریق موسسه CORDAID تهیه شده بود.

## له دوبۍ شوې کښتۍ ۳۸ کډوال ژغورل شوي، تر ۶۰۰ نور برېتانیا ته اوښتي دي

کدوال نیوز




**د برېتانيا ساحلي ځواکونه وايي چې پرون پنجشنبه د سپتمبر ۱۵ يې د کنت په ساحلي اوبو کې هغه ۳۸ کډوال ژغورلي دي چې کښتۍ يې په سمندر کې ډوبه شوې وه. په ورته مهال ۶۱۷ تنه نور برېتانيا ته اوښتي دي .**

**د امنيتي تدابيرو او ګواښونو سربېره، زيات شمېر کډوال لا هم هڅه کوي چې له فرانسې څخه د انګليس کانال له لارې برېتانيا ته واوړي. پرون پنجشنبه د سهار په ۶ بجو د کډوالو يوه بېړۍ د برېتانيا د کنت ښار ساحلي اوبو کې ډوبه شوه.**

**د برېتانيا ساحلي ځواکونو د پېښې په هکله د اطلاع له ترلاسه کولو سره سم د يوې کښتۍ، الوتکې او چورلکې په کارولو د کډوالو د ژغورلو عمليات پيل کړل. د جي بي نيوز په حواله، ژغورونکي هغه مهال د پېښې سيمې ته ورسېدل چې ځينې مسافر اوبو ته غورځېدلي وو.**

**د برېتانيا د دفاع وزارت وايي چې ټول مهاجر ژغورل شوي او دوور بندر ته لېږدول شوي دي.**

**Channel crossings: 617 people in 14 boats were brought to shore at Dover and Dungeness yesterday. 38 people had to be rescued from the water after their boat deflated. The French authorities returned a further 39 people to Boulogne after they got into difficulty in French waters. pic.twitter.com/aM0jxMzWnd**

**— Simon Jones (@SimonJonesNews) September 16, 2022**

د یو بل خبر له مخې د برېتانیا ساحلي ځواکونو پرون پنجشنبه ۶۱۷ تنه نور کډوال چې په ۱۴ کښتیو کې سپاره وو، په انګلیس کانال کې وژغورل او دوور او دنجنس ته یې انتقال کړل.

همدارنګه د سه شنبې په ورځ ۵۳۸ تنو نورو د سمندر له لارې ځانونه برېتانیا ته رسولي وو.

یو شمېر نور فرانسې ژغورلي

بل پلو بیا فرانسوي چارواکي وايي چې د چهارشنبې په شپه یې انګلیس کانال کې څو عملیاتونه ترسره کړي دي.

ژغورونکو د ورځې په ۷ نیمو بجو بلېریو ساحل کې د البانیایي کډوالو یوه ډله وژغورله چې ماشومان هم پکې وو. د [نور لیتورال](#) ورځپاڼې په حواله، د ځینو کډوالو د بدن د تودوخې درجه ټیټه شوې وه نو ځکه دوی د کالې روغتون ته یوووړل شول.

همدرانګه فرانسوي چارواکو د پنجشنبې په سهار د کالې په اوبو کې ۳۹ تنه نور مهاجر وژغورل. د مانش او شمالي سمندر قومنداني په یوه خبرپاڼه کې وايي چې دغه کډوال تېره غرمه بولونی بندر ته انتقال شوي دي.

پولیسو دغه راز د چهارشنبه په شپه د افغان، ایراني او سوډاني کډوالو یوه ۴۵ کسیزه ډله ونیوله. د رسنیو د راپورونو له مخې، د یو ۲۲ کلن افغان او یو ۱۸ کلن سوریایي مهاجر د بدن د تودوخې درجه ټیټه شوې وه نو ځکه دواړه یې روغتون ته یووړل شول.

**[#Opération] de secours et d'assistance d'une embarcation en difficulté au large de Calais par le patrouilleur de la @douane_france Jacques Oudart Fourmentin sous la coordination du #CROSSGrisNez ▶https://t.co/eMkR5b7Znf pic.twitter.com/JbUPSDhSqK**

**— Préfecture maritime Manche et mer du Nord (@premarmanche) September 15, 2022**

دا په داسې حال کې ده چې په روان ۲۰۲۲ کال چې لا یې بشپړه کېدو ته تر درېو میاشتو زیات وخت پاتې دی، د تېر کال د دوه لسو میاشتو په پرتله ډېر مهاجر تر مانش کانال څخه اوښتي دي. د برېتانیا حکومت د رسمي شمېرو له مخې، سږ کال تر اوسه ۲۸۵۶۱ مهاجر د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته رسېدلي دي.

بیا ولولئ :سږ کال تر تېر بشپړ کال زیات مهاجر له مانش کانال تېر شوي دي

دغه سمندري لاره د تجارتي کښتیو د تګ او راتګ له کبله د نړۍ یوه له تر ټولو مصروفو سمندري لارو څخه او په دې توګه د مهاجرت لپاره خطرناکه هم بلل کیږي.

## سازمان ملل: بیشتر کودکان پناهنده از حق دسترسی به آموزش محروم اند

مهاجرنیوز



یافته های تازه سازمان ملل متحد می‌رساند که تنها ۶۸ درصد کودکان مهاجر به دروس ابتداییه و ۳۷ درصد به آموزش سطح متوسطه دسترسی دارند. کمیسار عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان می‌گوید که "آموزش، سرمایه گذاری برای حقوق بشر و صلح است".

دفتر نمایندگی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان به تازگی گزارشی را نشر کرده است که در آن روی چگونگی دسترسی کودکان پناهنده در جهان به امکانات آموزشی تمرکز شده است. در این گزارش، وضعیت بیش از ده میلیون کودک در چهل کشور جهان دنبال شده است.

بر بنیاد یافته‌های این گزارش، حد متوسط شمولیت کودکان پناهنده در سال تعلیمی ۲۰۲۱-۲۰۲۰ چنین نتیجه گیری شده است:

۶۸ درصد در سطح ابتداییه (در مقایسه به سال قبل تغییر نکرده اما در تناسب به سال تعلیمی ۲۰۱۹-۲۰۱۸ حدود ۹ درصد کاهش یافته است(

-۳۷ درصد در سطح متوسط (نسبت به سال قبل که ۳۴ درصد بود، اندکی افزایش یافته است)

-۴۲ درصد به آموزش های پیش از ورود به مکتب (نسبت به آمار سال تعلیمی پیش که ۳۴ درصد بود، افزایش یافته است)

-۶ درصد آموزش به سطح عالی (نسبت به سال قبل تعلیمی که یک درصد بود، بیشتر شده است)

در اعلامیه خبری کمیساریای عالی سازمان ملل متحد آمده است: «ما هنوز با مشارکت کامل پناهندگان در استفاده از حق تحصیل، فاصله زیاد داریم«.

## ۱۴۲ مهاجر از جمله پاکستانی‌ها در مقدونیه شمالی دستگیر شدند

مهاجرنیوز



پولیس مقدونیه شمالی روز پنجشنبه ۱۵ سپتمبر ۱۴۲ مهاجر غیرقانونی را در جنوب این کشور در نزدیکی مرز یونان دستگیر کرد. تعدادی از دستگیر شدگان مهاجران پاکستانی بوده‌اند.

بر بنیاد خبرنامه پولیس مقدونیه شمالی، ۱۴۲ مهاجر بدون مدرک، شامل سوری‌ها و پاکستانی‌ها، در نزدیکی مرز یونان دستگیر شدند. این مهاجران از یونان وارد مقدونیه شمالی شده بودند.

مقام‌ها دستگیرشدگان را به یک مرکز اخراج مهاجران انتقال دادند.

به گفته پولیس، از آغاز سال روان تا کنون، ورود مهاجران غیرقانونی در مقایسه با همین دوره در سال گذشته، افزایش یافته است.

گفته می‌شود رفع محدودیت‌های ناشی از همه‌گیری ویروس کرونا از دلایل این افزایش است.

در همین باره :مقدونیه شمالی: پولیس ۲۶ مهاجر را دستگیر کرد

شماری از مهاجران معمولاً از ترکیه به یونان و سپس به مقدونیه شمالی و صربستان می‌روند.


چندی پیش خبرگزاری آسوشتیدپرس گزارش داده بود که پولیس مقدونیه شمالی در سال جاری مانع ورود حدود ۱۲ هزار مهاجر به این کشور شده است. ۹۰ درصد این مهاجران می‌خواستند از یونان وارد مقدونیه شمالی شوند.

بیشتر مهاجرانی که می‌خواهند از طریق جاده بالکان به اروپا بروند افغان‌ها، سوری‌ها، پاکستانی‌ها و بنگله‌دیشی‌ها هستند.

سال گذشته، سازمان مبارزه علیه جرایم سازمان یافته در گزارشی گفته بود که قاچاقبران انسان از مهاجرت غیرقانونی از طریق جاده بالکان سالانه حدود ۵۰ میلیون درآمد دارند.

به گفته این سازمان در سال ۲۰۲۰، قاچاقبران از مسیر بالکان غربی-مرزهای البانیا، مقدونیه شمالی و یونان- بین ۱۹،۵ تا ۲۹ میلیون یورو به دست آورده‌اند.

مناطق گوگلیا در مقدونیه شمالی و کاکاویا و کاپچتیکا در آلبانیا از مناطق مهم قاچاق مهاجران محسوب می‌شوند.




**بیشتر از کودکان پناهنده از حق دسترسی به آموزش محروم اند**

**این اعلامیه همزمان با راه اندازی یک کارزار در مورد حق آموزش برای پناهندگان منتشر شده است، موسوم به "فراگیر" یا "همه شامل شوند."**

**مرتبط :<u>مهاجرت تحصیلکرده‌ها، ضایعه‌ای برای افغانستان</u>**

**محققان دفتر نمایندگی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان دریافته اند که رقم شمولیت پسران پناهنده نسبت به دختران پناهنده، در کشورهایی که جنسیت دانش آموزان را ثبت کرده اند، اندکی بالاتر بوده است. رقم پسران پناهنده در مکاتب ابتداییه ۶۸ درصد و دختران ۶۷ درصد بوده است. درسطح متوسطه، رقم پسران ۳۶ درصد و دختران ۳۴ درصد بوده است.**

**این در حالیست که تمام کشورها، معلومات در مورد جنسیت دانش آموزان را ثبت نکرده اند.**

**فلیپو گراندی، کمیسار عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان پیش از نشر این گزارش گفته بود: «آموزش و تحصیل، سرمایه گذاری روی حقوق بشر و صلح است».**

گراندی دریافته است که اخیراً بسیاری از کشورها در بخش مشارکت و سهم دهی به پناهندگان در سیستم آموزشی رسمی و ملی شان پیشرفت هایی داشته اند. این مقام سازمان ملل افزود، از آنجایی که "آموزش یک سرمایه گذاری برای انکشاف، حقوق بشر و صلح دانسته می‌شود، ما نیاز داریم که این سیاست‌ها را با تامین مالی قابل توجه و پایدار، دنبال کنیم.

## کشتی «سی آی ۴» اجازه یافت نجات یافتگان را در ایتالیا پیاده کند

مهاجرنیوز



ایتالیا به پرسنل کشتی «سی آی ۴» اجازه داد که ۱۲۹ فرد نجات یافته را در بندر تارنت پیاده کند. به گفته سازمان آلمانی «سی آی» مدت اقامت برخی از این افراد در کشتی به ۱۳ روز می‌رسید .

سازمان آلمانی «سی آی» روز پنجشنبه اعلام کرد که با پیاده شدن پناهجویان و مهاجران نجات یافته در بحر، زمان انتظار آنان به پایان می‌رسد. برخی از این افراد تا ۱۳ روز را در کشتی گذرانده اند. پرسنل کشتی به تاریخ ۲ سپتمبر، ۷۶ پناهجو را از یک قایق چوبی نجات دادند که یک تن از آنان بعدتر به دلیل مشکلات صحی، از کشتی به بیرون انتقال یافت.

روز پنجشنبه، ۵۴ تن دیگر از کشتی نجات «Rise Above» به »سی آی ۴» منتقل گردیدند. کشتی «سی آی ۴» نسبت به کشتی "رایز اباوف" مجهزتر است. کشتی «Rise Above» متعلق به سازمان «Mission Lifeline» است.



وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت

Website: https://morr.gov.af
Fb page: https://m.facebook.com/morr.gov

**بیشتر بخوانید :<u>کشتی نجات «سی واچ ۳» ۱۲۸ مهاجر را از آب های مدیترانه نجات داد</u>**

**در این میان کشتی «Open Arms» که متعلق به سازمان اسپانیایی است، ۱۹ پناهجو را از یک قایق چوبی نجات داد که چهار کودک و دو نوزاد نیز در میان آن ها هستند. به گفته این سازمان این اشخاص از کشورهای سوریه و سودان هستند.**

**بحیره مدیترانه یکی از خطرناک ترین مسیرهای فرار در دنیا به شمار می آید. طبق اطلاعات سازمان بین المللی مهاجرت (آی او ام) از آغاز سال تا به حال دست کم ۱۲۸۰ تن حین عبور از این بحیره، جان باخته و یا مفقود شده اند. رقم واقعی احتمالا بسیار بالاتر از این است.**

**هیچ سازمان دولتی برای نجات مهاجران از بحر وجود ندارد. فقط سازمان های خصوصی هستند که پناهجویان در خطر را در بحر جستجو می‌کنند. امدادگران پس از نجات مهاجران اغلب باید مدت زیادی انتظار بکشند تا بندری برای پیاده کردن پناهجویان به آن ها اختصاص داده شود.**

**در این میان کشتی «Humanity 1» از سازمان «SOS Humanity» با ۴۱۵ پناهجو در انتظار صدور اجازه برای پیاده کردن پناهجویان در یک بندر امن هستند.**

**بیشتر بخوانید :<u>کشتی نجات «جیو بارنتس» با ۲۶۷ مهاجر اجازه لنگر انداختن به ایتالیا را به دست آورد</u>**

**پرسنل این کشتی پناهجویان را در عرض یک هفته و در طول چهار ماموریت سوار کردند .به گفته آن ها نیمی از نجات یافتگان اطفال و نوجوانان هستند و ۱۱۳ تن از آن ها بدون همراه اند.**

**بسیاری از آن ها جراحاتی دارند که در طول فرار متحمل آن شده اند. کشتی «Sea-Watch 3» نیز چندین بار خواهان اختصاص یک بندر شده بود تا بتواند ۴۲۸ تن را در آن جا پیاده کند. در این جا نیز طبق اطلاعات سازمان همنام، کودکان و افراد خوردسال زیادی هستند.**

## په جعلي ډپلومات پاسپورټونو او شخصي الوتکو کي قاچاق کوونکي ونیول سول

کدوال نیوز




د بلجیم هیواد چارواکو ویلي دي چي د نورو هیوادونو په مرسته یې د قاچاق وړونکو یوه ډله نیولی ده. دغو قاچاق وړونکو له جعلي ډپلومات پاسپورټونو څخه ګټه اخیسته.

د آلمان د خبري آژانس د راپور له مخي په پلټنو کي د آلمان، بلجیم او څلورو نورو هیوادونو پولیس برخه وال ول .ویل سوي چي پولیسو په عملیاتو کي د انساني قاچاق وړونکو یو ډله نیولی ده. د بلجیم پولیسو د چهارشنبې په ورځ (د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر ۱۴مه) وویل: «د عملیاتو پر وخت دوې الوتکي ضبط کړل سوې او پنځه کسان ونیول سول چي دوه یې زموږ په هیواد کي ول.» د بلجیم د پولیسو په وینا د دغي قضیې په تړاو یې په بلجیم کي دننه پلټني پیل کړي دي.

پر نیول سوو کسانو شک دی چي په انساني قاچاق، د پیسو په سپینولو، د جعلي اسنادو په جوړولو او د یوې مجرمي ډلي د تنظیم کولو په جرمونو کي برخه وال دي. د راپور له مخي تورن کسان د چهارشنبې په ورځ و توقیفي قاضي ته وړاندي کړل سول.

په راپور کي راغلي دي چي یادي ډلې همیشه همدا یو شان کار کاوه: په ترکیه کي به په جعلي ډپلومات پاسپورټونو انسانان په شخصي جېټ الوتکو کي کښېنول کېدل. دغو کسانو به چاروکو ته ویل چي الوتکه یې په کارابیک کي کښېني خو هغوی به الوتکه د اروپایي اتحادیې پر سیمه کښېنوله. کوم کسان چي په دغو الوتکو کي سپاره ول، هغوی به خپل جعلي اسناد له منځه وړل او په اروپایي اتحادیه کي به یې د پناه غوښتنه کوله .

د قاچاق وړونکو پر دغه ډله تور دی چې د هوټلونو او هوايي شرکتونو سره يې هم درغلۍ کړي دي. ويل سوي چې دغي ډلي له يادي لاري د انسانانو د قاچاق لپاره شل زره يورو غوښتل .

د پوليسو په وينا د دغي ډلي مرکز په بلجيم کي ؤ. د آلمان، ايټاليې، اتريش، بلجيم، فرانسې او د امريکا د متحده ايالاتو پوليسو د سه شنبې په ورځ په ځانګړو عملياتو کي د انساناني قاچاق وړونکو ياده ډله ونيوله. په دغو عملياتو کي د اروپا د پوليسو يوروپول اداره هم شريکه وه.

## پاکستان: پوليسو ۲۶ سند نه لرونکي افغانان نيولي، سلګونه نور بنديان دي

کدوال نيوز




د رسنيو د راپورونو له مخې پاکستاني چارواکو د کراچۍ ښار په ال آصف ډګر کي ۲۶ «غير قانوني «افغان کډوال نيولي دي. دا په داسي حال کي چې سلګونه نور سند نه لرونکي افغانان له مياشتو راهيسې د پاکستان په زندانونو کي بند پاتې دي.

د پاکستان <u>ځايي رسنيو</u> د سه شنبې په ورځ خبر ورکړ چې د کراچۍ ښار د سهراب ګوټ پوستې سرتېرو د ال آصف په ډګر کي ۲۶ افغان کډوال نيولي دي. پر دغو افغانانو تور دی چې په غير قانوني توګه پاکستان ته اوښتي دي.

د پوليسو د يوه وياند له قوله ويل شوي دي چې له يادو افغانانو سره د سفر اسناد نه وو چې له امله يې پوليسو بنديان کړل. چارواکو د نيول شويو کسانو په هکله دوسيې پرانيستي دي.

د یادلو ده چې د جولای په ۲۷ مه د بلوچستان ایالت په شیراني سیمه کې د پاکستانی ملیشه ځواکونو له خوا ۲۱۴ افغانان په دې تور نیول شوي وو چې له قانوني اسنادو پرته یې سفر کاوه. په نیول شویو کسانو کې یوه تازه واده شوې جوړه هم شامله وه چې د واده لومړۍ شپه یې په زندان کې تېره کړې وه.

پاکستان کې د طالبانو سفارت د جولای په ۳۰مه د دغو افغانانو د خوشي کېدو خبر ورکړ.

سلګونه نور په بند کې دي

په ورته مهال پاکستان کې افغان فعالان وايي چې د دغه هېواد په سند ایالت او په ځانګړې توګه کراچۍ ښار کې نږدې ۱۲۰۰ او پشاور کې بیا ۱۳۰۰ سند نه لرونکي افغان کډوال بندیان دي.

لږ مخکې پاکستان کې د طالبانو سفارت ویلي وو چې د ۳۰۰ بندیانو له ډلې څخه ۴۰ تنه یې د دغه هېواد پوځي محکمې ته د پیسو د ورکولو په بدل کې خوشي شوي چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي. ټاکل شوې وه چې دوی د تېرې شنبې په ورځ افغانستان ته واستول شي.

که څه هم طالبانو ویلي چې د دغو افغانانو د خوشي کولو هڅه کوي، خو یوه افغان فعال تېره جمعه رسنیو ته ووېل چې پاکستان کې د طالبانو سفارت د بندیانو د خوشي کولو لپاره کومه هڅه نه ده کړې.

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداري د شمېرو له مخې، د ۲۰۲۱ د جنورۍ د ۲۰۲۲ تر جون میاشتې پورې له ۲۵۰ زره ډېر افغانان پاکستان ته کډه شوي دي .

## مديترانه کې د کډوالو ۲۵۰ کسيزه ډله ژغورل شوې

کدوال نیوز




ايټالوي ځواکونو د سه شنبې په ورځ د مالتا په ساحلي اوبو کې د کډوالو يوه ۲۵۰ کسيزه ډله ژغورلې ده چې له لبنان څخه يې خپل سفر پيل کړی و. ياد مهاجر له اوبو او خوړو پرته د مالتا په ساحلي اوبو کې بند پاتې وو .

د ليګل اجندا په نامه لبناني سازمان پر خپله تويټر پاڼه ليکلي دي چې له اوږد انتظار وروسته د مالتا په ساحلي اوبو کې بند پاتې ۲۵۰ کډوال د ايټاليا سمندري ځواکونو له خوا وژغورل شول .

دغه کښتی کې لبناني، سوريايي او فلسطيني کډوال سپاره ول چې له لبنان څخه يې د اروپا پر لور خپل سفر پيل کړی و. ليګل اجندا وايي چې د مهاجرو دغه کښتی مخکې له دې چې خپل مقصد ته ورسيږي، تېل يې خلاص کړي وو .زياته شوې ده چې په کښتۍ کې سپاره کډوال له اوبو او خوړو پرته څو ورځې په توفاني سمندر کې بند پاتې وو.

ژغورل شوي کډوال چې په ډله کې يې ماشومان هم دي د سه شنبې په شپه ايټاليا ته وروستل شوي .

بدأت عملية إنقاذ ۲۵۰ راكباً من الجنسيات اللبنانية والسورية والفلسطينية على متن قارب #هجرة_غير_نظامية انطلق قبل أيام من شاطئ العبدة شمال لبنان وعلق في مياه البحر المتوسط قبالة مالطا.

٦/١ pic.twitter.com/QRwmCNdfsV

**— Legal Agenda (@Legal_Agenda) <u>September 13, 2022</u>**

**لبنان کې اقتصادي کړکېچ د دې لامل شوی دی چې زیات شمېر کسان د مدیترانې له خطرناکې لارې اروپا ته د راتګ هڅه وکړي. د ترکیې ساحلي ځواکونو پرون سه شنبه وویل چې <u>د دغه هېواد په ساحلی اوبو کې یوه ښځه او پنځه ماشومان مړه شوي</u> دي. دغو کډوالو له ۷۳ تنو نورو سره یو ځای له لبنان څخه خپل سمندري سفر پیل کړی و.**

**د یادو مهاجرو کښتی د دوشنبې په ورځ د یونان د رودس ټاپو په اوبو کې تېل خلاص کړي وو .**

**عیني شاهدانو ویلي دي چې دوی یوناني ځواکونو خپله بېړۍ کې سپاره کړل، قیمتي وسایل یې ونیول او د ترکیې ساحلي اوبو ته یې نږدې پر څلورو کښتیو کې یوازې پرېښودل .**

**یونان بیا په یوه خبرپاڼه کې د ترکي چارواکو ادعاوې په کلکه توګه رد کړې دي .**

**اتن او انقره د کډوالو د مسلې پر سر په منظمه توګه پر یو بل تورونه لګوي .یونان د تېرې یکشنبې په ورځ وویل چې د روان کال له پیل راهیسې یې <u>خیلې خاورې ته د ۱۵۰ زره کډوالو د داخلېدو مخه نیولې</u> ده. د یونان د کډوالو چارو وزیر نوتیس میتاراچي د سپتمبر په ۴ یوې ځایي ورځپاڼې ته ویلي وو چې یوازې په اګست میاشت کې دغه هېواد ته د ۵۰ زرو کډوالو د اوښتو مخنیوی شوی دی.**